شهسوار سنګروال ۲۰۱۵/۱۱/۲۰

شعر څه ته وايي

دا چې شعر د کومې ژبې لغت دی؟ په دې اړه بېلابېلو څرګندونو ته تم کېږو:
ځينې شعرپوهان شعر يوه عربي کلمه ګڼي، او د پوهېدو مانا ور څخه اخلي.
ولې دغه پوهه د ټولو وګړو لپاره نه کاروي، بلکې د الهام په مانا د ځانګړي احساس په نوم ځانګړو کسانو ته چې هغه شاعران دي کارول کېږي.
دغه ډله شعرپوهان د شعر کلمه عربي نه بولي بلکې د " شېر" معرب يې ګڼي. " شېر" په عربي ژبه کې د زړه راښکونکي اواز مانا لري او شعر د سرود په مانا هم راغلی دی.
«شور يې مصدر دی او په هر شي کې د شعر مبدا، طبعي، مذهبي، ملي، عشقي او نور ساده سرودونه دي».(...)
دا هم ويل کېږي چې عربي ژبې دغه کلمه له عبراني "شېر" نه اخيستي چې مانا يې سندره شي.

شعر موزون او مخيل کلام دی او د کليماتو ښکلی او زړه راښکونکی انځور.
يا هر هغه کلام چې اهنګ ولري شعر دی.
شعر د متفکر انسان د عواطفو انعکاس دی، يا شعر هغه موزون کلام دی چې د شاعرانه تخيل هستي د هنري ارزښتونو له مخې پکې انځور شوې وي.
شعر د تخيل ښکلی انځور او په اهنګينه ژبه د احساس او انساني عاطفې لېږد ته وايي.
شعر د هنري ارزښتونو هغې ځولۍ ته وايي چې د هر رنګ او خوند مينه وال پکې د خپلې د خوښې توکي موندلی شي.
ارستو په دې اند دی چې شعر په زړه کې هيجان راولي. ځينې بيا شاعران د هغې پوهې څښتن ګڼي، چې د ټولنې عام وګړي يې له درک څخه عاجز وي.
«شعر په کره کېښکلې او اهنګينه ژبه د آند و واند يا خيال او فکر ولوليز يا عاطفي تړاو ته وايي.» **پښتو شعر څنګه جوړېږي ۱۰۷ مخ**

شاعران د دوه ژبو څښتن دي. يوه ژبه يې د وګړو سره ګډه ژبه ده، او بله ژبه يې د شاعري ژبه ده چې يوازې ځانګړي کسان پرې پوهېدلی شي.

هر څوک د ګلانو بڼ ته ځي او په باغ کې رنګارنګ ګلان ګوري، خو کوم خوند او رنګ چې شاعر ترې اخلي د ټولنې ټول وګړي ترې برخمن نه دي.

د تاريخ په اوږدو کې شعر سحر يا جادوګري ګڼل شوی دی، او شاعر ته يې د جادوګر نوم ورکړی دی.

شعر ويده اروا ويښوي، او تيارو زړونو ته رڼا رسوي. د اسلام ستر لارښود حضرت محمد (ص) ويلي چې خپلو ماشومانو ته شعرونه ورزده کړئ چې شعر سړي ته زړه ورتيا بخښي.

«شعر د متاثر شخص د تاثيراتو او انفعالاتو نتيجه ده. شعر د متاثر انسان د عواطفو او رقيقو احساساتو نماينده دی. شعر د نفس لغت دی. شعر د پټو او غير مريي حقايقو ښکاره او څرګند تصويرونه دي. بلاخره شعر د طبيعت جمال دی.» **پښتو اريانا دايره المعارف شپږم ټوک، ۴۱۱ مخ.**

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د مرغلرو پیپلو ته شعر وايي. شعر آهنګيني ژبې ته وايي. شعر يو ښکلی هنر دی چې عاطفه، احساس، موسيقي، او د شاعرانه تخيل هستي د شعر جوهر ګڼل کېږي.

شعر د روح انقلاب دی او د ټولنيز شعور د ودې او پرمختګ يو ستر لارمل.
نړيوال شاعران نړۍ يو ګډ کور ګڼي، او د هر پېر بېلابېل بهيرونه د کړۍ په څېر يو له بل سره نښلوي. همدا لامل دی چې هومر، دانته، شکسپير Shakespear، ګوېته Goethe، پوشکين، مولانا بلخي، خوشال خان خټک، رحمان بابا او نور د ټولې نړۍ وګړو پورې اړه لري.

«شاعران د ټولنې هغه ستره شتمنۍ ده، چې له ټولنيز چاپېريال نه الهام اخلي او فرهنګي، مانيز او مادي ارزښتونه خوندي کوي».(....)
د ټولنې دغه ټولنيز الهام د بل هر هنر په څېر شاعران د شعري ښکلا په مټ خلکو ته ورپېژني، ټولنې ته، سيمې ته او ان نړۍ ته يې ځلوي.
نو دلته دی چې يو شمېر شعرپوهان په دې اند دي چې شعر يو موزون او مخيل کلام دی او شاعران بيا په هيچاني توګه خپل احساس، فکر او پيغام خلکو ته رسوي. يا شعر د هيجاناتو هغه اهنګينه ژبه ده چې شاعر خپل اند د هنري ښکلا په مټ ټولنې ته وړاندې کوي.
که څوک له يوه ډاکټر نه وپوښتي، چې زړه څه ته وايي؟ نو ډاکټر به پرته له ځنډه ووايي: زړه د غوښې يوه ټوټه ده چې پرته له زړه نه ژوند ناشونی دی، خو که له شاعر نه وپوښتل شي، نو هغه به ووايي زړه د مينې کور دی چې د عاطفې او خواخوږۍ لاس د ښکلا په مخ راکاږي.
شعر د کليماتو ښکلی انځور دی خو تخيل پکې لکه بې کليماتو ژبه.
شاعرانه تخيل د شعر ويلو ستره شتمنۍ ده لکه د ګلو څانګه چې د نيمې شپې په چوپتيا کې په نازناز غوړېږي او خبرې کوي.
شاعر او انځورګر د يوې هنري مور دوه اولادونه دي چې له ټولنې سره يو ځای زېږېدلي دي، خو راتلونکي ټولنيز چاپېريال په هکله سوونه کاله د فکر او تخيل په ځواک وړاندوينه کولای شي.

که چا سوونه کاله مخکې چېرې ويلي وای دا
چې سړه اوسپنه دې باز غوندې وزر ولري

د ګاليله غوندې کافر به و د دار په تخته
چې غرب دې راشي او مور چل دې په سپين غر ولري.

(نور بيا)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ